AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۴/۲۸

# بلې قـارې تـه ثـوابـونـو تـه ځـي




دلته په لاره کې کعبه پرته ده
خلک مکې ته طوافونو ته ځي
دا د نیږدې ثواب یې نه خوښیږي
بلې قـارې تـه ثـوابـونـو تـه ځـي

حج اکبـر دی د غریب مړول
بیا ښه ده نوره دینداري ورپسې
د خوږو زړونو له کعبو راتاو شئ
د سفر مه کوئ خواري ورپسې

ولا چې یو ګاونډی وږی پرېږدې
که دې شي حج او یا عمره قبوله
په فریادونو یې ځان کوڼ واچوې
که دې په عمر شي توبه قبوله

دا د غربت سوې نغمې واوره
ساندې د زړونو د کعبې واوره
عرب خو واړه دي مالدار باوره
چیغې د وږیو له خېمې واوره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ